انجنیر سلطان جان کلیوال ۲۰۱٦/۰۱/۱۲

# د میوندوال د کودتا په تور،

## تورنو ته د سزا ورکولو حقوقی اړخ ته یوه کتنه

### لمړی برخه

د۲۵۱۳ کال د سرطان د میاشتی په ۲۶ نیټه د افغانستان شاهی دولت د شاهی کورنی د یوه ښه او ډیر پیژندل شوی شخص او پخوانی صدراعظم سردار محمد داود خان په مشری د یوی کودتا په نتیجه کی را نسکور او پرځایی د جمهوری نظام د رامنځ ته کیدو زیری، د سردار محمد داود خان له خوا د سهار په لومړنیو شیبو کی د رادیو افغانستان له څپو نه د افغانستان خلکو ته واورول شو. د دی بدلون راتلو ته د ټول افغان ولس له لوری ډیر ښه هرکلی و ویل شو او ټولو داسی و ګمارله چی ګوندی که د خدای(ج) رضا وی دا وطن به د فقر، غربت او ناداری له حالت نه را ووځی او د یوی روښانی راتلونکی په لوری به ګامونه پورته شی. همدا وجه وه چی په ټول هیواد کی د نوی جمهوری نظام په ملاتړ غونډی وشوی او افغان اردو هم د نوی جمهور رئیس سردار داود خان څخه ملاتړ وکه او بی له وینی تویه وني د جمهوری نظام لومړنی اساسات د ټولو افغانانو له خوا په ډیری خوښی سره ومنل شول او په افغان ولس کی د تاریخ یو نوی باب را بیرته شو. کله چی یوه یوه نیمه اونی تیره شوه او د نوی جمهوری نظام کابینه افغان ولس ته ور معرفی شوه، نو ځای په ځای داسی څه ګونګسی را پیدا شول چی د دی ملت سرنویشت لکه چی د بلی لوری نه ټاکل کیږی، ځکه چی په کا بینه او ځینو حساسو چوکیو کی داسی کسان و ګمارل شول چی په څرګنده توګه یی د وخت د شوروی اتحاد سره د ځینو معلوم الحاله سیاسی کړیو له لاری اړیکی درلودی لکه ډاکټر حسن شرق د صدراعظم معاون، فیض محمد داخله وزیر، غوث الدین فایق د فوائد عامی وزیر، عبدالحمید محتاط د مخابراتو وزیر، پاچاګل وفادار د قبائلو وزیر، غلام جیلانی باختری د زراعت وزیر، قدیر نورستانی د پولیسو او ژاندارم عمومی قوماندان، عبدالصمد ازهر جنائي آمر، محمدخان جلالر د تجارت وزیر او نور اونور .....ټول هسی مقتدر کسان و چی د سردار محمد داود خان د جمهوری نظام ټول واک او اختیار د همدی اشخاصو په لاس کی متمرکز و، او همدا څیری وی چی خلکو ته د هیواد راتلونکی ور پوری تړلی ښکاره شوه . د خلکو داتشویش بی ځایه نه و، ځکه

د جمهوری نظام د عمر نه لا دوه نیمی میاشتی نه وی تیری شوی چی د هیواد په ځینو برخو لکه د ننګرهار ولایت د بټی کوټ په ولسوالی، د پروان ولایت په پنجشیر ولسوالی د بدخشان ولایت په راغ ولسوالی ، د لغمان ولایت په مرکز مهترلام او ځینو نورو سیمو کی نارامی او د مرګ ژوبلی سره وسله والی نښتی را منځ ته شوی، د [تحریکات] د هغه وخت د جوانان مسلمان د ډلی له خوا چی وروسته ورنه حزب اسلامی او جمعیت اسلامی دوه ډلی جوړی شوی، راپیل شوی وو چی ځانی تلفات هم پکی وا وښتل او د دی ډلی ځنی غړی بندیان شول او ځنی نوریې د پولی نه آخوا د پاکستان د دولت منګلو ته ور ولویدل، چی په دا وروسته کلونو کی یی ورنه د هیواد د بربادی په لاره کی ښه ګټه پورته او د افغانستان سره یی خپله دښمنی په روښانه توګه په اثبات ورسوله.
د خلکو دا اندیښني لا هغه وخت نور هم پسی زیات شوی چی د کابل راډیو نه یی د میوندوال د کودتا خبر واورید. په دی برخه کی ښاغلی عبدالغفار فراهی د خپل اثر (افغانستان د دیموکراسی او جمهوریت په کلونو کی) په ۶۲۳، ۲۳۷ او ۲۳۸ مخونو کی داسی لیکی: "دوه میاشتی او اوه ورځی وروسته ترهغی چی محمد داود خان کودتا وکړه، یعنی د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر د میاشتی پر ۲۲ نیټی، کابل راډیو اعلان وکړ چی پخوانی صدراعظم محمدهاشم میوندوال او د ده ملګرو د یو خارجی هیواد په مرسته کودتا کوله او ونیول سول". لاندی اشخاص د کودتا کوونکو په نامه بندیان سول:
محمدهاشم میوندوال، د ننګرهار پخوانی والی خان محمد خان، دهوایی قواوو پخوانی قوماندان جنرال عبدالرزاق خان، د هوایی قواوو قوماندن سید امیر، جنرال عبدالجبار ملکیار، جنرال عبدالسلام ملکیار، ډګروال زرغون شاه، ډګروال کوهاټ خان، ډګروال شیرافضل افریدی، ډګروال شیرافضل مومند، محمدعارف شینواری، د ولسی جرګی ځنی غړی او څو نور کسان چی شمیر یی پنځه څلویښتو تنو ته رسیده... د کودتا په اتهام د ولسی جرګی ځینی غړی لکه د ننګرهار د کوچیانو وکیل حاجی الله نظر، د جلا آباد د ښار وکیل حاجی فقیر محمد، د مومندری وکیل سعدالله کمالی، د نازیانو وکیل سیف الرحمان او داسی نور وکیلان بندیان سوی وو. دغه وکیلان د خان محمد خان د دفاع د وزارت د مبارکی د پاره د ده کورته ورغلی وو، څرنګه چی په هغی لحظی کی خان محمد خان په کورکی نه و، نو وکیلانو د هغه کورکی کاردونه پریښی وو، چی د خان محمد خان د کور د تلاشی په وخت کی د وکیلانو کاردونه پیداسوه او دغه کاردونه د دغو وکیلانو د کودتا د اثبات دلیل وبلل سوه".
ښاغلی فراهی د خپل همدی اثر په ۲۳۷ مخ کی د کبیر سراج له قوله لیکی: (کبیر سراج په خپل اثر کی لیکی "خان محمد خان ماته وویل چی زه د محمد داودخان په امر د دفاع وزارت ته ورغلی وم"). همدارنګه ښاغلی فراهی وا یی: (د اطلاعاتو او کلتور وزیرډاکتر عبدالرحیم نوین ما فراهی ته وویل:
"د علی آباد روغتون ته د خان محمد خان په لاس لیک هدایت ورسیدی چی د وینی د زخیری څخه د دفاع د وزارت له اجازی پرته باید استفاده ونه سی". په همدی توګه ښاغلی فراهی په خپل اثر کی لیکی: (زه د اسلام اباد په افغانی سفارت کی وم، چی د ۱۹۷۳ کال د اکتوبر د میاشتی پر دوهم نیټی کابل رادیو اعلان وکړ چی پخوانی صدراعظم محمد هاشم میوندوال په محبس کی ځان وژلی دی. یوه ورځ وروسته چی زه کابل ته راغلم ما د خارجه وزارت د معین سید وحید عبدالله پر میز باندی د محمد هاشم میوندوال د مړی هغه عکس ولید چی نیکټایی یی په غاړه کی اچولی شوی ده، دا عکس د خارجی سفیرانو د لیدلو دپاره د سید وحید عبدالله پر میز باندی ایښوول سوی و). ښاغلی فراهی

همدا ډول زیاتوی: (په افغانستان کی هیڅا دا نه منله چی محمد هاشم میوندوال دی پخپله ځان وژلی وی). نوموړی همدارنګه د غوث الدین فایق له قوله لیکی:

"زه «فایق» د محمد هاشم میوندوال تر وژل کیدلو یوه ورځ د مخه د محمد داود خان په هدایت د محمد هاشم میوندوال د لیدلو له پاره د ده د تحقیق ځای، داخله وزارت ته ورغلم. محمد هاشم میوندوال په دغه ورځ کمیس او پرتوګ اغوستی و، یوه ورځ وروسته اعلان وسو چی میوندوال په خپلی نیکتایی ځان وژلی دی". وروسته معلومه سوه محترم احمد فواد ارسلا د روان کال د نومبر د میاشتی په لومړی نیټه تر دی عنوان لاندی «سند رآپور سی، آی، ای در مورد قتل میوندوال» د افغان ـ جرمن په درانه پورتال کی د سی آی ای د یوه تلګرام ژباړه چی د کابل نه واشنګټن ته لیږل شوی داسی وړاندی کوی: "۲- محمد هاشم میوندوال خود کشی نکرده است، بلکه وی در نتیجه شکنجه درجریان چند روز از وی در وزارت داخله در اثر لت و کوب کشته شده است". چی محمد هاشم میوندوال په وهلو ټکولو وژل سوی دی. ښاغلی فراهی زیاتوی چی (غوث الدین فایق په خپل اثر کی عبدالصمد ازهر د محمد هاشم میوندوال قاتل بللی دی). «۵۹ تر ۱۰۰ مخونه»

«آخرین لت و کوب محمدهاشم میوندوال توسط انجنیرغوث الدین فایق وزیر فواید عامه صورت گرفته است» . د دی نه سړی داسی اټکل کولی شی چی غوث الدین فایق چی د فواید عامی د وزارت مسؤولیت په غاړه لری او د مجرمینو نه په تحقیق کی هیڅ وظیفوی ونډه نه ده ورسپارل شوی، سردار صاحب ولی هغه د میوندوال د لیدلو د پاره داخله وزارت ته لیږی؟ شاید د وهلو، ټکولو او بالاخره د وژلو د پاره ؟؟ او همدارنګه د ښاغلی داود ملکیار سره د پاچاګل وفادار، عبدالحمید محتاط، ډاکټر حسن شرق، صمد ازهر او د هماغه وخت د نورو لوړو دولتی څیرو د مرکو او خبرو نه داسی څرګندیږی چه د رسمی کار نه تر فراغت وروسته د دی ټول شوروی پلوی ګروپ د سات تیری او تفریح ډیر ښه ځای هماغه د داخله وزارت زیر زمینی وی چی هره شپه هلته سره را ټول شی او د کودتا په نوم نیول شوو تورنو ته پکی د اعتراف په منظور د مستنطیقینو د جزاء ورکولو سیل وکړی، د هغوی د مظلومانه فریادونو او زګیرویو نه خوند واخلی او کله ناکله د خپل قهر او غضب جوش هم پری سوړ کړی او تر هغی دا تورن و وهی تر څو یا په جرم اعتراف وکړی یا بی هوشه شی او یا هم د میوندوال په څیر د غوث الدین فایق او صمد ازهر د سوکانو او لغتو لاندی سا ورکړی او په حق ورسیږی.

که سړی وروستی پیښی په نظر کی ونیسی نو پوهیدلی شی چی دوی په ډیر مهارت سره دا لوبه پیل کړی وه او بی له دی چی سردار صاحب په حقیقت وپوهیږی هغه یی په بری سره ترسره کړه. میوندوال او نور ملی اشخاص یی چی د سردار صاحب د پاره د ښو دوستانو او همکارانو او د جمهوری نظام د هدفونو د تحقق د پاره ښې ستنې وی له منځه یوړل او په سردار داود خان باندی یی د راتلونکی حملی د پاره د هغه اړخونه خالی او ملت یی وربانذی بی باوره کړ. د سردار داود خان په کابینه کی شوروی پلوې مقتدری ډلې په ډیری آسانی سره د اسلامی ډلو په وړاندی د شدید عکس العمل په ښولو سره افغان مسلمان ملت ته دا هم ور وښوله چی د جمهوری نظام مشر سردار محمد داودخان ددوی فکری ملګری هم دی. ماته دا ډیر ښه را یاد دی چی انجنیر نجم الدین کاویانی «وروسته د ببرک کارمل د اقتدار په وخت کی د ګوند د سیاسی بیرو غړی» او د تشکیلاتو رئیس «انجنیر ظهور رزمجو» د کارمل په وخت کی د ځوانانو د دموکراتیک سازمان منشي «انجنیر شریف» چی په همدی دوره کی د کابل د ښهری کمیټی منشی ؤ او دری واړه د کابل د پولی تخنیک په انستیتوت کی زما هم دوره وو، په ډیر وضاحت سره د محصلینو په

منځ کی ویل چی "سردار داودخان زمونږ د گوند د مرکزی کمیتی مخفی غړی دی او د جمهوری نظام راتلونکی سیاسی تګلاره او اقتصادی پلانونه به زمونږ د گوند سره په مشوره کی جوړ او تطبیقیږی". داچی سردار صاحب ددی ډلې په کړو وړو څومره خبر ؤ او څومره یی د دوی خبرو ته په لومړیو وختونوکی اهمیت ورکاوه او څومره یی ورته غوږ نیوه، ځانګړی موضوع ده چی د دی لیکنی نه د باندی ده. بیرته خپلی اصلی خبری ته را ګرځم:
ښاغلی داود مکیار د خپل ځیرنیز آثر د «رد اتهامات وشرح واقعیت ها» په څلورمه برخه کی چی په همدی پورتال کی ۲۰۱۵ کال د دسمبر په ۳ نیټه خپور شویدی د خدای ج بخشلی جنرال ملکیار له قوله داسی لیکی:
"از جنرال ملکیارپرسیدم که بلاخره آنچه مستنطقین میخواستند اقرار کردی"؟ در جواب میگوید: (دریکی از شب های آخر تحقیقات صدای چیغ و فریاد یک جوان از اطاق مقابل شنیدم، از مستنطق خود «باقی سیاه» پرسیدم که آن صدا به صدای پسرم شباهت دارد، ایا شما پسرم را آورده و شکنجه میکنید؟ جواب داد که: "بلی ما یکایک اولاد های شمارا می آوریم تا بر تو شهادت بدهند". به او گفتم متهم من استم، آنها چه گناهی کرده اند که زجر ببینند؟؟ جواب داد:
"اگر میخواهی اولاد هایت را از زجر خلاص کنی، بهتر است به آنچه میگویم اقرار نمایی". قبول کردم که هرچه میخواهید، بنویسید و من امضاء میکنم).
د تش په نامه کودتا په تور نیول شوو اشخاصو ته د جسمی او روحی شکنجو تر څنګ په جرم باندی د اعتراف د پاره د دی ضد انسانی میتود نه یوائی د جنرال ملکیار صاحب سره کار نه دی اخستل شوی، بلکی د ډیرو نورو سره هم ورته او تر دی هم بدتر چلند شویدی. د مثال په توګه تاسو درنو لوستونکو سره د شهید ماما زرغون شاه، د تحقیق د غړو د چلند یوه برخه شریکوم: کله چی ماما مرحوم د ۱۳۵۲ کال د میزان د میاشتی په دویمه نیټه د رژیم د مؤظیفینو له خوا زندانی شو، نو مونږ په دی هڅه کی شوو چی د دوستانو سره تماس ونیسو او د هغه د توقیف ځای پیداکړو، په لومړیو ورځوکی زه او دشهید ماما مشر زوی حاجی شاه محمود چی تر اوسه شکر ژوندی دی د ځینو دوستانو لکه جنرال خلیل د مرکزی قواوو قوماندان، جنرال غلام حیدر رسولی لوی درستیز او نورو سره مو ولیدل هرچا مونږ ته ډاډ راکاوه چی تشویش مه کوی شاید کومه اشتباه وی ژر به رفع او ماما به حتمی راخوشی شی. څو ورځی لا نه وی تیری شوی چی د ماما مرحوم مشر زوی شاه محمود هم د رژیم د امنیتی مؤظیفو له خوا زندانی شو، او د پلار تر وژل کیدو وروسته شپږ میاشتی نور هم په زندان کی پاتی شو. کله چی را خلاص شو نو ما د هغه نه پوښتنه وکړه چی په زندان کی مستنطیقینو له تاسره څه سلوک کاوه او د تحقیق جریان څه ډول و؟ حاجی شاه محمود راته داسی وویل: " د نیولو په دریمه ورځ دوه تنه راغلل او زه یی په پټو سترګو چیرته بوتلم، نه پوهیږم چی کوم ځای به و، خو دومره پوه شوم چی په یوه زینه کی ښکته شوو او بیا په یو اوږده دهلیز کی روان شو، څو شیبی وروسته یوی کوټی ته دننه شوو او بیایی زما له سرنه توره خولی چی تر غاړی پوری می سر پکی پټ و، لیری کړه، په یوه چوکۍ کی یی کینولم، یوه پاڼه یی راکړه چی خپل شهرت مکمله ولیکه، و می لیکه، وروسته یی په شفاهی توکه رانه و پوښتل چی آیا مونږ ته ویلی شی چی په دی وروستیو ورځو کی ستا پلار د چا سره لیده کاته درلوده؟ ورته می و ویل چی زما پلار د دری اونیو د پاره زما د واده د پاره وطن (شینوارو) ته تللی و، له هغه ځایه چی بیرته کابل ته راغلی، د معمول په څیر هماغه پخوانی دوستان لکه ویاند صاحب، خاوری صاحب، حاجی صاحب عبدالوهاب، وکیل سعدالله کمالی، مدیر صاحب صمیم الله خان کاموی، ډګروال کوهاټ خان چی زمونږ د یوال شریک دی او ځنی نور ډیر دوستان زمونږ کورته تللی، راغلی دی او په دی وختو کی ډیر دوستان زما د واده د مبارکی دپاره هم راتلل چی ماته

ټول اوس نه دي په یاد. تردی خبرو ورسته یی زه یو شیبه په کوټه یواځې پریښودم دا دوه تنه بیرون ته لاړل، څو شیبی وروسته بیرته راغلل بیا یی زما په سر هماغه خولی را ښکته کړه او بیرته یی په پټو سترګو د دهمزنګ زندان ته را وړولم تردی وروسته بیا د بند په دی تیرو نهو میاشتو کی نه چا له مانه تحقیق کړی اونه یی له زندان نه بل چیرته وړی یم".
له بلی خوا که چیری درونو لوستونکو د شهید ماما خبری په هغه ثبت شوی کست کی چی ځوموده پخوا د افغان ـ جرمن له پورتال څخه د ښاغلی قاسم باز په ذریعه خپور شوی واوریدلی وی نو د کابل رادیو نطاق په خپلو لومړیو خبرو کی وایی چی:
"زرغون شاه در مرحله اول بکلی از موضوع انکارمیکرد، بعد ازینکه د لایل اثباتیه در مقابلش ارایه میشود، شهود می طلبد". که دلته د یو څه دقت نه کار واخستل شی او د احساساتو له مخی پریکړه ونه شی نو سری پوهیږی چی د موضوع نه په کلی توګه انکار اوبیا دستی دیوه شاهد «د ننګرهار مرکز وکیل حاجی فقیرمحمد» په شهادت سره اعتراف بی له زجر او شکنجی څومره د منلو وړ دی؟ خو که چیرته مونږ هریو د داسی حالت سره مخامخ شو آیا دومره په اسانی به د یوه ناکړی جرم په کولو معترف شوو؟ د پوهیدو وړ ده چی ځواب منفی دی، خو که چیری یو پلار د دهمزنګ په څیر دیوه زندان په کومه ګوښه کی اویا د داخله وزارت د زیر زمینی په دهلیز او یا د شکنجی د سامان نه په یوه ډکه کوټه کی ودرول شی اوهغه ته د هغه د تنکی ځوانی په عمر زوی له یوی فاصلی څخه ور وښول شی او ورته وویل شی چی که په ناکړی جرم اعتراف و نه کړی او هغه څه چی زه «مستنطق» یی درته وایم ونه منی، نو وګوره چی په هغه تنکی زوی به دی څه حالت راولم او په همدی څیر به دی د نور اولاد سره څه سلوک وشی؟ که چیری غواړی چی اولاد دی د دی حالت نه وژغوری نو جرم ومنه او اعتراف وکړه، نو بیا به داسی پلار پیداشی چی دا حالت وزغملی شی او دی ته حاضر نه شی چی د مرحوم جنرال ملکیار صاحب په څیر په میړانه ووایی:
"هرچه میخواهید بنویسید و من امضآ میکنم". زه بیا هم داسی فکر کوم چی هیڅ داسی پلار به پیدا نه شی چی حتی خپل مرګ ته هم د اولاد د شکنجی او زجر نه ترجیح ور نکړی، چی ډیری غوره نمونی همدا باهمته پلرونه لکه مرحوم جنرال ملکیار، شهید جنرال خان محمد مرستیال، شهید ماما زرغون شاه او د دی تش په نامه کودتا نور اشخاص شمیرلی شو. نو که پوښتنه وشی چی د شهید ماما ۳۲ کلن زوی چی تازه یی ورته واده کړی و او تر آخره ورنه، نه تحقیق وشو او نه یی بیا مستنطق ولید، که یواځی د همدی د پاره نه ؤ بندی شوی، چی د هری د سیسی او جرم نه منکر زرغون شاه ماما په ناکړی جرم معترف کاندی، نوبیا د بل څه شی د پاره نیول شوی او زندانی شوی ؤ او د کوم جرم له کبله یی۹ میاشتی د دهمزنګ په زندان کی تیری کړی؟ قضاوت په لو ستونکو اړه لری.
زه په دی برخه کی چی د دی کودتا په تور نیول شوی اشخاص ټول په دی ناکړی عمل د سختو جسمی او روحی شکنجو په نتیجه کی معترف شویدی په هم اغو موثقو، منطقی او باوری اسنادو او مدارکو باندی چی ښاغلی عبدالغفار فراهی صاحب په خپل اثر «افغانستان د دیموکراسي او جمهوریت په کلونو کی» چی په ۲۰۰۱ میلادی یا ۱۳۸۰ هجری شمسی کال کی د سپیدی د خپرونکی موسسي له خوا په امریکا کی چاپ شویدی، او د ښاغلی داود ملکیار په څرنیزی لیکنې کی، چی د «رد اتهامات و شرح واقعیت ها» تر نامه لاندی په همدی پورتال کی په مسلسله توګه همدا اوس خپریږی، لیکلی او عامه قضاوت ته وړاندی کړی دی بسنه کوم او غواړم چی د دی تش په نامه کودتا

تورنو اشخاصو ته د جزاء ورکولو په حقوقی اړخ باندی چی ما تر او سه د کوم څیرونکی له لخوا په دی هکله څه نه دی لوستلی یو ځغلند نظر واچوم.

زمونږ افغانی ټولنه یوه اسلامی ټولنه ده او په دی ټولنه کی دوه ډوله قوانین له ډیرو زمانو راهسی په گناه کونکو او مجرمینو باندی تطبیق کیږی. «داچی کوم عمل گناه ده او کوم عمل جرم دی او گناه او جرم یو تر بله څه توپیر لری زمونږ د دی بحث موضوع نه ده،»، خو دومره باید وویل شی چی هر گناه کونکی ته جزا د شرعی اصولو له مخی ورکوله کیږی او د هیواد د قضا یی قوی صلاحیت دی او هر مجرم ته جزاء، د هیواد د مدنی قوانینو له مخی لکه اساسی قانون او د جزاء قانون، د هغو با صلاحیته محکمو له خوا چی د مروجه قوانینو په ټولو جزئیاتو باندی خبر تیا او آگاهی ولری ورکوله کیږی. د قانون ساتونکی او مدافع اورگان څارنوالی ده، د پولیسو د تحقیق او په مجرم باندی د جرم د اثبات د راټولو شوو مدارکو مکمله دوسیه د څارنوال او د مجرم د مدافع وکیل په اختیار کی ورکوله کیږی اوبیا دواړه د محکمی په وړاندی د محکمی قاضی ته د مجرم او شاهدانو په گډون حاضریږی او په علنی توگه هر یو د دی محکمی حضورته خپل د لایل وړاندی کوی چی کله ناکله ممکن دا جگړه د موضوع د اهمیت او پیچلتیا له امله ډیره اوږده موده په بر کی ونیسی، ترڅو محکمه په پوره توکه او له هره پلوه د کاملو حقایقو په رڼا کی سالم قضاوت او عادلانه فیصله و کولای شی. که د دی تخنیکی اړخ نه تیر شو او اصل موضوع ته را وگرځو نو په لومړی سر کی باید په قوانینو کی د خلکو اساسی حقونه و پیژنو او بیا دا و څیرو چی د میوندوال د تش په نامه کودتا کونکو سره د رژیم **د** واکمنانو له خوا څومره دا قانونی اساسات په پام کی نیول شویدی؟

د ملگرو ملتونو نړیوال سازمان د خپل لومړی موجودیت نه ډیر لږ وخت وروسته یعنی د ۱۹۴۸ کال د دسمبر د میاشتی په لسمه نیټه، د غړو هیوادونو په عمومی اسامبله کی چی د فرانسې په پلازمینه د پاریس په ښار کی جوړه شوی وه د «بشر د حقوقو نړیواله اعلامیه» تصویب او نشر کړه او له همدی نیټې نه یی هغه په ټوله نړۍ کی جاری و بلله. زمونږ هیواد افغانستان یو له هغو لومړنیو هیوادو څخه و چی د دی نړیوالې مؤسسی غړیتوب یی تر لاسه کړی او د هغی منشور یی له هماغې لومړۍ ورځی نه تر دا ننه پوری د بیلابیلو واکمنانو او رژیمونو «شاهی، جمهوری، جمهوری دیموکراتیک، جمهوری اسلامې، امارت اسلامې» ټولو د هغه په منلو او مراعات کولو خپل دولتې سیستم مکلف گڼلی او هغه یی په مکمله توگه منلی دی.

زه په دی برخه کی چی د دی کودتا په تور نیول شوی اشخاص ټول په دی ناکړی عمل د سختو جسمی او روحی شکنجو په نتیجه کی معترف شویدی په هماغو موثقو، منطقی او باوری اسنادو او مدارکو باندی چی ښاغلی عبدالغفار فراهی صاحب په خپل اثر «افغانستان د دیموکراسي او جمهوریت په کلونو کی» چی په ۲۰۰۱ میلادی یا ۱۳۸۰ هجری شمسی کال کی د سپیدی د خپرونکی موسسې له خوا په امریکا کی چاپ شویدی، او د ښاغلی داود ملکیار په څړنیزی لیکنې کی، چی د «رد اتهامات و شرح واقعیت ها» تر نامه لاندی په همدی پورتال کی په مسلسله توگه همدا اوس خپریږی، لیکلی او عامه قضاوت ته وړاندی کړی دی بسنه کوم او غواړم چی د دی تش په نامه کودتا تورنو اشخاصو ته د جزاء ورکولو په حقوقی اړخ باندی چی ما تر او سه د کوم څیرونکی له لخوا په دی هکله څه نه دی لوستلی یو ځغلند نظر واچوم.

زمونږ افغانی ټولنه یوه اسلامی ټولنه ده او په دی ټولنه کی دوه ډوله قوانین له ډیرو زمانو راهسی په گناه کونکو او مجرمینو باندی تطبیق کیږی. (داچی کوم عمل گناه ده او کوم عمل جرم دی او گناه او جرم یو تر بله څه توپیر لری

زمونږ د دی بحث موضوع نه ده،) خو دومره باید وویل شی چی هر گناه کونکی ته جزا د شرعی اصولو له مخی ورکوله کیږی او د هیواد د قضا یی قوی صلاحیت دی او هر مجرم ته جزاء، د هیواد د مدنی قوانینو له مخی لکه اساسی قانون او د جزاء قانون، د هغو با صلاحیته محکمو له خوا چی د مروجه قوانینو په ټولو جزئیاتو باندی خبر تیا او آگاهی ولری ورکوله کیږی. د قانون ساتونکی او مدافع اورگان څارنوالی ده، د پولیسو د تحقیق او په مجرم باندی د جرم د اثبات د راټولو شوو مدارکو مکمله دوسیه د څارنوال او د مجرم د مداقع وکیل په اختیار کی ورکوله کیږی اوبیا دواړه د محکمی په وړاندی د محکمی قاضی ته د مجرم او شاهدانو په گډون حاضریږی او په علنی توگه هر یو د دی محکمی حضورته خپل د لایل وړاندی کوی چی کله ناکله ممکن دا جگړه د موضوع د اهمیت او پیچلتیا له امله ډیره اوږده موده په بر کی ونیسی، ترڅو محکمه په پوره توکه او له هره پلوه د کاملو حقایقو په رڼا کی سالم قضاوت او عادلانه  فیصله و کولای شی. که د دی تخنیکی اړخ نه تیر شو او اصل موضوع ته را وگرځو نو په لومړی سر کی باید په قوانینو کی د خلکو اساسی حقونه و پیژنو او بیا دا و څیرو چی د میوندوال د تش په نامه کودتا کونکو سره د رژیم د واکمانو له خوا څومره دا قانونی اساسات په پام کی نیول شویدی؟

د لمړی برخی پای

نور بیا